سازمان خط نو
NEW LINE ORGANIZATION

په ټاکنيز نظام کي دسمون په برخه کي دګډي کميټي دکار په اړه دنوی کربنې يا (NLO) سازمان اعلاميه

کابل -افغانستان ۹/۵/۱۳۹۵

دنوی کربنې سازمان دټاکنو دشاهد په توګه ، په ټاکنيز نظام کي دسمون راوستو په اړه ، کم کاريو او بې غوريو ته په کتو دګډي کميټي جوړيدل ښه بديل بولی، خو متاسفانه په دي برخه کي دعملی کار لپاره دحکومت له خوا ټاکل شوی وخت پرته کومې پايلې پای ته ورسيده، چې دا د ټاکنيز نظام په جوړښت او په ټاکنيزو قوانينو کي دسمون په برخه کي دحکومت دنه ژمتيا او عدم جديت څرګندونه کوی.

دحکومت له خوا دفرمانونو صادرول او دملی شورا له خوا دهغې د رد پرځای دې دهيواد لوړو ګټو ته په کتو په يوه اصلاحی طرحه کار وشی، او بيا هغه تاييد او توشيح کړل شی، ترڅو په وخت دټاکنو دترسره کولو لپاره عملی ګامونه واخيستل شی.

متاسفانه دګډي کميټي دچارو بې پايلې پای ته رسيدو يوځل بيا دنوی کربنې سازمان او هيواد وال دټاکنو نا څرګند وضيعت انديښمن کړی دی.

دنوی کربنې سازمان ددی مطبوعاتی اعلاميی په خپرولو د جدی انيښنې په څرګندولو سره لاندې ټکي مهم او اړين بولي.

1 - دنوی کربنې سازمان په دي برخه کي دغه لنډ وخت ته په پام سره په دي باور دی چې حکومت نشی کولای په روان کال کي پارلمانی ټاکنې ترسره کړی، په هغه صورت کي کولای شی چې دولسی جرګې او ولسوالیو دشوراګانو دترسره کيدو کار سر له اوسه په ټاکنيز نظام کي دسمون چارې په جديت سره پيل شی.

۲- د نوي کربنې سازمان باوري دی چې ملي شورا بايد د خلکو د رايو تمثيل کونکي په توګه د اصلاحاتو په راسوتو، د رنړ او عادلانه ټاکنو په ترسره کيدو کي مرسته وکړي چې د وخت له صايع کيدو او د لګښتونو څخه مخنيوی وشي.

۳- د نوي کربنې سازمان په دي حساسو شرايطو کي د اصلاحاتو راوستو له پاره د مدني ټولنې، سياسي ګوندونو او د ملي شخصيتونو د يو موټي کيدو غوښتونکی دی، چې حکومت خپل فشارونو او عدالت غوښتنکو حرکتونو تر اغيز لاندې راولي او په دي سره ټاکنيز اصلاحات او د رنړ ټاکنو ترسره کيدل د ملي يوالي حکومت کاري لوړيتوبونو کي راشي.

۴- حکومت بايد په ټاکنو کي د ټاکنو رنښت له پاره دي د پټو او ښکاره لاسوهنو لاس واخلي او د الکترونيکي پيژندپانو د ويشلو په برخه کي جدي اقدامات وکړي.

۵- که چيرې په ګډ کمښيون کي دواړه خواوي هوکړې ته ونه رسيږي، ولسي جرګه ځانګړی واک لري چې د رايو په دوو ټلټونو سره دغه فرمان تصويب کړي، بايد په دي برخه کي د ولسمشر د فرمان راتلونکی ژر ترژره روښانه شي او يا نوري قانوني لاري چاري وموندل شي او د هغه پايلو په اړه خلک او مشاهدو بنسټونو ته جزيات ورکړل شي.

۶- په پای کي د نوي کربنې سازمان له سياسي ګوندونو، او ټاکنو پوري اړوند بنسټونو څخه غواړي چې په ټاکنيز نظام کي د سمون راوستو او د رنړ ټاکنو په ترسره کيدو کي له يو بل سره يوځای ګام پورته کړي او په دي برخه کي د حکومت او مقننه قوي د خلکو غولولو مخه ونيسو تر څو په هيواد کي د رنړ او عادلانه ټاکنو شاهد ووسو.

مور نوي نسل د رنړ او عادلانه ټاکنو ترسره کيدو له پاره د عدالت غوښتنې له لاري په دي برخه کي کار کو.

په درناوی

د نوی کربنې سازمان

آدرس دفتر مرکزی سازمان: کابل،کارته سه مقابل تعمير دانشگاه ابو ريحان
شماره تماس: 0791300415-0786468345
ايميل: info@newline.org.af